

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مغموم ډیوخط په جواب کښې

++++++++++++++++++++++++++++++

اشنا مینه شاعری ې ستا وښکې کوي نه ګڼه
زما په تې له شاعری کښې تا فرحت او نه مونږ
ما په قدم قدم په ځان پورې خندلی ګوډې
ما ته احساس دے چې ما ځوک هم خندولی نه ډې
تۀ په خپله هم مغمّوم وے اداکار چې هم وې
تا خپل دردونه پټولے شو ما پټ نه کړے شو
ما ته احساس دے تا د ننه ځان ژړلے هم شو
داد ې کمال وُچې په شوندو و به دې تل خندا وه
زۀ چې څۀ اومه هغه وومه اداکار نۀ وومه
زۀ اعتراف کوم چې تۀ د وخت یو لوئے فنکار وې
تا د رومان په ډیښې پرو کښې ځان نغښتے شو
تا خپل غمونه په خپل زړۀ کښې ځوندي کړي چې وُو
ما په مورو د نظر یو په شا ګوډ یونه لیدلے
وخت او حالاتو نظر یو د اسې زړې زړې کړم
د زړۀ چیچې وې اندې په مخه کړې ستا کار چې ګران وُ
په زړۀ پرهر وې ځوتا خلقو کښې خندا وې شلہ
ما ته احساس دے زما کار هم څۀ آسان نه ځونۀ وُ
زۀ د رنه ورستو شوم چې وخت په وخت غُبار چې ایستو

ما خپل غمونه کۀ هر څو د فن نقاب کښې پټ کړۀ
تۀ چې فنکار وې سمدستي پې د فن روح ته کوز شوې

قمر راهي مردان ۱۹ اګست ۲۰۰۰ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د
تور او ربل
تورو کښو خبرې

عبدالله جان مغموم
تمغهٔ امتیاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

تمهید

د تور اوربل تورو کمڅو خبرې
څومره خوږې دي د تيرو خبرې

د نيمې شپې په خاموشۍ کښې کُلې
نغمې نغمې شي د بنګړو خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترون

د هغو نیمګړو نیمه ځواؤ ارمانونو
په نوم چې وخت بې وخته زما په زړه
کښې لکه د یو طوفان راپورته شویدي
او بیا په ځپله قلار شوي دي

مغمومم

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

پښغله	ایاز داؤدزے	۱۱
د رومانی شاعر (د لوپټو خبرې)	صابر شاه صابر	۲۲
د تور اوریل توس وکمټو خبرې	عبدالله جانمغموم	۳۰
لویه خدایه لویه خدایه		۳۷
ورپسې زلمو ځوانې خاوړې ایرې کړې		۳۹
بس یو پو ته ځوندې خندا وکړه ته		۴۰
دا سې په مایانې وختونه را غلل		۴۱
اول به زړۀ سره صلاح کومه		۴۲
نشې نشې سوده نشې دې منم		۴۳
بیا مې ارادې جوړې نن ځوانې شوې		۴۴
تکې تورې شپې کړې تا		۴۵
شپه د انتظار په شوګیرو تیروم		۴۶
ته ټیچې زلفې را خورې کړې تورې شپې شې		۴۷
وپم چې ستا د نیاهم او سوزوم ایره کړم		۴۸
چې ستا زلفې ولونه ولونه اونۍ کمښې شې		۴۹
ګلان ټول ازغې ازغې شول		۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د زلفو سلسلې دي ۵۱

بې واره توپئدلې بې اختياره څخېدلې ۵۲

تنهايۍ مې دي مګرې او غمونه راسره دي ۵۳

پرهرونه جوړوي زړۀ کښې زخمونه جوړوي ۵۴

ستا د مُسکا ستا د خندا نه قربان ۵۵

کله کله راته اوګورې مُسکۍ شې ۵۷

د زړۀ تسکين په مېخانو کښې نۀ وُ ۵۹

کله کله مې دا زړۀ داسې خفه شي ۶۰

مست شم د پازېبو د شرنګا سره ۶۲

چې ستا خندا زما ژړا اونۀ شوه ۶۳

په غوله کښې اه په زړۀ زخمونه لرم ۶۴

راغلې ورځې شپې د پريشانۍ زما ۶۵

ستا د وصال په رنګينو کښې روسم ۶۶

دا د زلفو سلسلې چې را ګورې شي ۶۷

مينې دې اسانې راته ګرانې کړې ۶۸

رقيب چې ماله نن پېغور راکوي ۶۹

شمعه بلېږي د رنړا دپاره ۷۰

اوښکه ګوند دې نوي ژوند دې دې اوبوکښې ۷۱

نغمې نغمې دي د پلۍ خبرې ۷۲

راځے ما بنام دپر د غمونو سره ۷۳

تورې تيارې راته فنا ښکاري ۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه توخوبه نوژړېږمه زهٔ ۷۵

کلی رڼېږي څهٔ مُسکی خوندهٔ دي ۷۶

رڼېي اوښکې مې ځلېږي په کوکنې ۷۷

راشي راته اوګوري مُسکی نهٔ شي ۷۹

بیا دې یادونو سلسلې جوړې کړې ۸۰

نور دې اے ژوندونه په سجدونهٔ تېروم ۸۲

بېلتانهٔ کښې څهٔ دا هسې چل په ما شي ۸۳

نن په فضا کښې رنګینې ښکارې ۸۵

راځئ ستوري وچې اودهٔ شو شپه پخه شوه ۸۶

چاته شراب چاته کاسې ښکارېدې ۸۷

چرته چې زلزل غوندې پیدا شي حوصله کښې ۸۸

هر طرف ته ګورم مایوسي دي او غمونه دي ۹۰

ما په زیر زیر ورته کتلے نهٔ شو ۹۱

خدایه یوځو ورځې ژوندون دې راکړو ۹۳

مکؤ ساقي نن راته نامهٔ کوه ۹۵

دا نو څهٔ غم نهٔ دے چې تېرې کړمه ۹۶

څهٔ ژړا شي څهٔ سلګې شي ۹۷

راغلهٔ غمونه جوړې نور راغلهٔ ۹۹

هغې و ټل تهمت په ما پورې شو ۱۰۰

ځکه مې دېرې پرېشانې شي کنه ۱۰۱

ځکه زمانه تن ژړا هېره شوه ۱۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول ژړا وي بيا سلګۍ شي کنه ۱۰۳

ګۀ هرڅو دې غم دَحد نه په وتېږشي ۱۰۴

ستاد اوريل دا پر پشانۍ مزه که ۱۰۵

په محفل کښې بلبل چې تۀ ۱۰۶

د زړۀ تسکين په مينانو کښې لټوم ۱۰۸

دُنيا دَ اُميدونو چې ځۀ ورانه غوندې ښکاري ۱۱۰

ښۀ دې انکار دَ اقرارو نو څنې ۱۱۱

دَ نيکۍ بدۍ حساب شي په عقبیٰ کښې ۱۱۲

دا څو غلط دې چې خندلے نۀ شم ۱۱۴

ځۀ له زما دَ مرګ سوالونه کوې ۱۱۵

ځۀ په ژړا ځۀ په زارو تېره شوه ۱۱۶

په ښائسته مخ دَ شين خالۍ مې قسم ۱۱۷

دَ زړۀ دَ غم رانه ټيوس مۀ کوئ ۱۱۸

څوک ورته سُور څوک ورته شين وائي ۱۱۹

شپې دَ ښلتانۀ دومره اوبدې دي راځه ۱۲۰

ارمانونه چې مې خاوړې شي ايرې شي ۱۲۱

سپوږمۍ سره خبرې ۱۲۲

لږ څو مې پرې پرې ده غمه ۱۲۴

تعبير ۱۲۶

وادۀ ۱۲۷

د مه ۱۲۹

دَ نجلۍ زمکې ته خطاب ۱۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

پغله

د پغلتوب کور دی ودان اوسی تل
چی ئی د پغلو نه نغمی بوړی کړی

د مفهوم په شاعری د پغلی او پغلتوب خیال دا سی وزهوردے
چی د هغهٔ هرشعر هره مصرعه او هرغزل په خپله یوه ښکلی نازولی پغله
ښکاری - په پغلی چی د پغلتوب چیه راشی نو پغله بیا پغله پاتی نهٔ شی
بلکی یوه مسته شان نغمه شی - هم د غه د ځمن او موسیقی امتزاج چی مفهوم
ئی د پغلی په وجود کښی بیاموی - د هغهٔ غزل ته ئی بی سیاله ښکلا او عمومی
مقبولیت بخښلے دے) نو پغله د زمانو را سی د مشرق په شاعری کښی
د معشوقی محبوبا - دلبر - دلربا نگار او دا سی په نورو نامو او علامتو نو
یاده شوی ده - د هغی نازونه ادا کانی زده دی - د زړونو لوټل
او د مټنانو وژل ئی کار دے - بی وفائی او وعده خلافی ئی خاص
شعار دی - د غه پغلی په هره زمانه او هر دور کښی د ځپل
پغلتوب او ښکلا نو بتونه غښ ولی دی - نو سره د دی
تولو خصوصیاتو پغله د شاعر په نظر کښی هم هغه پغله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکه چې یو عام انسان ګوانی په څه انتښې پېغلې ته په کا سیرو نظرونو ګوري - د پېغلې د وصال تمنا د مئین د یا کې مینې آخري منزل، او د انسانې ژوند د ارتقاء معراج ګڼلے شي - د پېغلې نه فطري اقتضاء هم د غه کېدے شوه - خو ټن زمانې دومره پېښ عیبت او نو یو - انسان د فطرت نه دومره لرې لاړو - مشینې دور مضنو دومره عام کړو چې د فطرت پېښه، انسان د فطرت په غېږه کښې آرام کولو د پاره د تخیل د بلندوته هم ټېر شو او د اوهامو په ځړو کښې د فطري اقتضا ګانو په لټون پسې ورک شو - د غه وجه ده چې د ټن د زلمي شاعر قوت واهمه یوه پېغله، پېغله نه بلکه یوه نغمه تصور کوي او د نغمې نه چې د روحانې تسکین سرچشمه ده، د جنسي تسکین موهومه اقتضاء کوي او وایي چې ؎

د پېغلتوب کور دې ودات اوسي تل
چې ئې د پېغلو نه نغمې جوړې کړې

نه یو هېن م چې د نفسیاتو صبانې ماهران به د ننني دور تجزیه او د د غه تجزیې په رڼا کښې د مغموم د دې الهامي شعر تشریح په څنډ وول کوي - خو زه په خپله په دې نتیجه رسېد لے یم چې د مغموم شاعري هم نکه د مشرقي رښتونې شاعري ده او هر رښتونے فن هم د شاعر او فنکار د ژوند رښتونې آئینه ده) مغموم د ماشوم والې راسې د رسم ورواج په سنګینو ګلا کانو او د اخلاقیاتو او عقائدو په فولادي پنجره کښې د اسې بند پاتې شوے دے چې هغه د پېغلتوب د حرارت نه هډو ځیر نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغۀ پېغله دلرې نه لیدلې ده ، د دومره لرې نه چې د هغۀ په خیال د انسانې هوسونو رسائې ورته هډو امکان نۀ لري - هم دغه وجه ده چې مغمومې پېغله یوه مجسمه نېکلا ، یوه مست نغمه ګڼي چې تل ترتله د هر قید و بند نه په امان پاتې شوې ده - دې سره سره د پېغلې د مونډلو او ځیلولو فطري اقتضاء هم د هغۀ په تخت الشعور کښې داسې په غږوونو ده چې څۀ ویني نو پېغله ورته نسکارې - د هغۀ په وژدان د پېغلتوب خیال داسې سور دے چې د هغۀ هر فنکارانه تخلیق هم د پېغلې د خیال نه زېږېدې او ځکه د هغۀ غزل د پېغلو سره خبرې نه بلکه د پېغلې د نېکلا ، د هغې د مستې ځوانۍ او د هغې د نغمه ځیز وجود د رنګو او پرا نو عکسونو مجموعه (البم) معلومېږي -

د مغمومو د غزلونو پېغله چې هغه ډېر اکثر د "ګلې" په نامه مخاطب کوي یو مخصوص شخصیت نۀ شي کېدے - دا د نېکلا د هغۀ د لوړ تصوّر مجسمه ده چې هر صوفي هر عالم هر فنکار او هر د ځمن او ربښتین توب طلبګار د لټون کړے دے - په رنګ رنګ او ډول ډول نومونو ېې یاده کړې ده - او د غه "لټون" او د غه "یاد" په رنګ رنګ نظریې قسما قسم فلسفې او بې سیاله فنکارانه شاهکارونه په هر دور په هره زمانه په هر ملک او هر قوم کښې زېږولې دي - د نېکلا د غه لوړ تصور د بنیادمو ایکې یو مرکزي خیال پاتې شوے دے - او هم د غه یو "مرکزي خیال" د بنې آدمو د "وجداني وحدت" ژوند ے دلیل دے فرق صرف دومړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے چې نورو "شالیت پسند و" د غه ټبکلا د انسانې ژوند نه لرې د فکرې تخلیقاتو یاد اوډاې او الهامې او واردات تو په پیکرونو کښې لټوله او مغمومې ځې هم د دې دنیا په پغلو کښې لټوې۔ دهغه د زړهٔ مراد د غه د نوې زمانې پغلو پټ کړے دے هم د هغوئ نه ځې غواړې او لټوې ځې نو په د غه پغلو کښې هغه پغله کومه یوه ده چې د مغمومې د ټبکلا د تصور مجسمه ثابته شې - هم دا په پغلو کښې د پغلتوب لټون چې نه ځې مومې - هم دا پغلې، پغلې نه بلکې نغمې کنډلے کښې د مغمومې د ژوند او شاعرې هغه خصوصیات دې چې ترته د "شالیت پسند ې" او حقیقت پسند ې رنګین ژ ف قونه یو ځائے کښې۔ سره د دې ټولو خبرو د مغمومې چې څهٔ وائې نو په شعورې طور ځې وائې - هغه مجذوب شاعرنهٔ دے - څهٔ چې وائې لیکې نو وربانده ې پوهیږې - د بې ارې په عالم کښې فنکارانه تخلیق کوې - هغه په خپلو نفسیاتي کشالو هم آګاه دے - خپلې نظریاتي لانجې هم پټرنې او د خپل فن د قدرونو نه هم آګاه دے -

دا ځکه چې د هغه په خپلو الفاظو کښې د هغهٔ د شاعرې او ژوند پحقله د خپلو رعوو او نظریو ثبوت او لټوو۔ مغمومې د شعر د لیکلو په وخت څهٔ کیفیت محسوسوې؟ وائې چې "زهٔ هغه وخت شعر یکم چې څهٔ وخت شعر ما په یکلو مجبورې کړې - او هر کله چې دا سې حالت راشې نو بیا د خپل ژوند په تصور کښې دا سې غرق شم چې دنیا و مافیها نه بې خبرهٔ یم - په هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ دا محسوسوم چې زما پلۍ زما په وړاندې ولاړه ده اوزهٔ نګیایم
دهغې سره خبرې کوم - اوخټه وخت چې دیکلو نه اوزګارشم
نو په هغه وخت دا سې تسکین محسوسوم لکه چې مایو ډیر لوئے
کار کړے وي اوددې نه پس یکلي شعرونه بیا بیا لولم اودا بیا
بیا لوستل زما زړهٔ ته هریو وار یو نوے تسکین ورکوي "

راځئ چې دا اوګورو چې د مغمّوم د غه اشنا ځوک د ے
چې د شعر د یکلو په وخت د هغې په تصور کښې ددنیا روما فیهانه
ناخبره وي - اوهغه پلۍ ځوک ده چې د شعر د یکلو په وخت
ورته مخکښې ولاړه وي مغمّوم وائي چې زما په زړهٔ کښې یوٗ
دا سې درد دے چې ددې درد د پیدا کولو نکي نه زهٔ نهٔ یم خیر -
زهٔ نهٔ یم پوئے چې زهٔ په چا مئین یم - زهٔ نهٔ یم پوئے چې هغه
ځوک ده چې د چا یاد زما احساسات او زما زړهٔ هروخت ناقلاړ
ساتي - زما د خیال مرکز د پښغله " زما په زړهٔ کښې شته - زما په
دماغ کښې شته نو په ستر ګو چې لانهٔ ده لیدلې ، ولې بیا هم دهغې
تصوّر او د هغې یاد ما په وٗیلو مجبوره وي - ماته دیکلو بلنه
راکوي -

د مغمّوم د خپلو وینا ګانو نه هم دا معلومیږي چې د هغهٔ د
شاعرۍ " زړهٔ پښغله " هم هغه د چا زلمي شاعر " د خیال د پلۍ " چې
هغې ئې حُسنِ کمال کښې یو عکس دے - نو فرق صرف هم دومره
دے چې د خیال پلۍ د خیالونو نه هم پرے اوسیږي اوشاعر
ته په لنډیه لهجه کښې وائي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ے شاعره ماته به ته څه راړسي

زهٔ د عنقا په شیانو کښې اوسم

نو د مغموم "پښفله" هم د مغموم نوم اوٗ شاپښفلو کښې

اوسي او لټون ئې هم په دغه نوم اوٗ شاپښفلو کښې کوي - اوٗ د

مونږ لو قوي اُمید ئې لوي څکه نو وائي ے

ے نو بخندا به په مغموم یا ندې حرام کړي

یوه پښفله به پیدا شي چې نکښو کښې

عبدالله جان مغموم د پښتو ښار نه څلور میله قطب ته

په یو وړوکي کلي کښې چې دارمنګي نومیږي اود خلیلو په ټبه

کښې د ورسک روډ د پاسه پروت دے په یوې درنه او معزز

کور کښې پیدا شوے دے - نن صبا به ئې څهٔ کم وزیات

۳۷ کاله عمر وي - زهٔ مغموم د ماشوم والي راسې پښتنم - د

هغهٔ سره د وړوکوالي نه زما د زهٔ ترون دومره زیات دے

چې د هغه هره کمزوري ما ته یو لوے صفت ښکاري - دغه

وجه ده چې ما کله هم د مغموم په شاعري د څهٔ لیکلو دپاره

قلم را خیستے دے نو هغه منع کړے یم چې ته زما د شاعري په

حقله دیو غیر جانبدار نقاد کردار نهٔ شې اداکولې نو زهٔ ورته

وېم چې مغمومه زهٔ لانقاد کله وم - زهٔ نو په فن مئین یم

او چرته چې فنکارانه نوښې وینم نو سند رې ئې وایم دلته

زهٔ د هغه اشنایانو نه هم معافي غواړم څوک چې د ځپل

لوے علم په رنا کښې د مغموم په فن کښې څهٔ کمزوري وینې -

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو وئیل چې دا چې که د مغموم صیب د وروکوالي ماحول هرڅو شاعرانه نه وُ - اوچاچې دهغه کلي ییدلے وي دهغه د کورنۍ د سختو مذهبي پابندونه آګاه وي نو هغوئ به زما دې خبرې سره اتفاق اوکړي چې د مغموم د ماشوم والي په ماحول کښې هډوډ شاعري کنجائش نه وُ نو حو سره ددې هم د مغموم طبیعت دهلکوالي نه شاعرانه وُ او اکثر به هم خبرې هم په شعر شاعري کولې نو په کال ۱۹۴۴ء کښې چې د هغه څه لوبې او غزلې مې واوریدې نو د هغې ورځې نه سو د خیال اوفکر ملګرتیا هم پیدا شوه هغه ورځ ده او نن ورځ ده چې مغموم زما زړه ته دومره را نږدې شوے دے چې زړه پې د خپل ځان نه بیل شخصیت نه شم محسوسولے - اوس چې هم د هغه په حقله څه لیکم نو لکه چې د ځان ستاینه کوم - ځان خلق د هرچا نه ښه پیژني او زه مغموم د هرچا نه ښه پیژنم -

زه چې مغموم باندې څه لیکم یا د هغه کلام اولم نو د هغه خندا رویه څهره راته وړاندې ولاړه وي که هرڅومره هیڅوم هیڅ نه پیژنم - اوچې پې نه شم هیڅولے نو د هغه متعلق غیر جانبداره را پې هم نه شم څرګندولے مغموم زما اشنا دے - اشنا په څوک څنګه هیڅکړي - مغموم وائي -

ما اشنا مې ځان دے زه به ځان هیڅوم
خدائ ګو جهان نه دے چې هیڅ پې کړمه

د مغموم په شاعري کښې دکلي وال ژوند عکس څرګند ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دخپل ماحول مطالعه دپره ښۀ کړې ده او دغه مطالعه
په دې بنسټ دول په خپلو شعرونو کښې څرګنده وې - په کلوکښې
د پښتلې دیدن یا ټوپه کودرکښې یې یا دکوټې په چت او یا بیا
دکلي دکورو تو دپوالونه هم چیت وې تو کله نا کله د دې وال
نه هم سر راهسکوې، ځکه ټوله مغمومه خپلې کلي والې پښتلې ته
وائي - ؎

څۀ ټو یا نه کښې په دې وال اوګوره
ستا دکوڅې سره تپس پن مه زۀ

وائي چې پښتنه دخټو جوړه کړې نو هم ښۀ وې ټوله پښتنو یې
سره چې ښائست هم ملګرے شي نو بیا نو هغه د مغمومه ټبۀ
؎ چې ښائست او پښتنو یې سره یو ځائے شي
هره پښتنه یوه مستر شان نغمه شي

د پښتلې تصور لکه چې مخکښې اوو ټلے شول د مغمومه په کلام کښې
د پر او چت دے - هغه د پښتلې نه هډو د جنسي خواهش خیال
قدر هم نشي کولے - پښتنه بس یو خیال دے، یو تصور دے، یو
ښکلے تصوّر - ټو..... مغمومه هم څۀ ارمان لري - د خپلې
خیالي پښتلې په حقله څۀ هوسونه لري - راشئ اوګورئ څومره
ښکلے ارمان او مثالي هوس لري - وائي چې ؎

ما ټو یو ګل د پسرلي کړې ویښه
چې بیا د پښتلو په کمښو کښې اوسم

د خیالي پښتلې تصوّر د مغموم په خیال کښې دومره پوخ شوے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے چې کله کله د غه پېغله په ګډا هم اوبنې نو وائي چې

ستا د پازیب په هر یو شرنګ کې قسم

زهٔ دې نشه کړم په نشو کښې اوسم

د پېغلو پېغلتوب دې خدائے هم د پېغلو نصیب کړي - مغمّوم د پېغلتوب د ځپلو لو هسه هم نهٔ لري پېغله او پېغلتوب ورته ګل او ګل څانګه نسکاري - ګل د ګل په څانګه کښې ښهٔ نسکاري - که شوکو پۍ یا بوټیو پۍ نو مړاوے کیږي پېغله سکه د ګل هم د کتو د پاره پیدا ده - او یو معمولي ګل هم د Wordswarth غوندې احساسي بنیاد موته دا رنګ احساسات ورښنې چې دبیان نه پۍ عاجزه وي - او شاید چې د غه ژور احساسات په بنده ځهٔ بې هوشي غوندې راولي او ځکه پۍ اظهار نهٔ شي کولے - مغمّوم د پېغلو په لید و هم هغه کیفیت محسوسوي کوم چې Wordswarth د ګل په لید و محسوسولو ځکه ویلي دي:

د پېغلتوب موخدائے نصیب کړه پېغلو

زهٔ مو نشه کړم په نشو کښې اوسم

یواځې د پېغلو په لید و مغمّوم دا کیفیت نهٔ محسوسوي بلکه چې د پېغلو د بناسټ خبرې قدرله واوري نو هم پۍ فکر یوسي د ځان نه ورک شاني شي نو په دې موقعه مغمّوم وائي:

چې د پېغلو د بناسټ ذکر شروع شي

را پیدا شي یو جنون غوندې په ماکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مغمّوم چې په چمن ورګډ شي او د سړوۍ قطار ونه اوو يني
ګمان ئې را شي چې ګنې پېغلې ولاړې دي - او چې څه وخت
په نو د شي او پوئے شي چې دا نو پېغلې نه دي بلکې سروې
ولاړې دي نو اووائي چې د دې سړوۍ د چا پېغلې نباشت او
پېغلتوب ته پام شوے وُ، نو ځکه نو پېغلې ښکارېږي ؎

ستا نباشت او پېغلتوب ته ئې چې پام شي
هره سروه د چمن پېغله جينې شي

حقه نو داده چې هم پېغله د مغمّوم کائنات دے - ځکه نو ورته
په پېغله کښې کائنات او په کائنات کښې پېغله ښکاري - وائي -

؎ هر يو وار چې ورته ګورمه حيران شم
ګله شمعه ګله ګل ګله سپوږمۍ شي

(يا) پوئے يم چې سپوږمۍ د څه سيالي کوي
مياشته شي نړۍ شي نو نګۍ نه شي

پېغلو کښې د مغمّوم د خيال پېغله او سېږي چې د پرو وړسې
خپلې ګوانۍ خاوړې کړې دي، نو ځکه نو وائي -

؎ وړسې زلمو ګوانۍ خاورې ږيرې کړې
خدائے دې کونګ کړه څه له پېغلو ټه خپرې کړې

(يا) چې د نګينې ټولې را غونډې شولې
پېغلو ترې ځان له لوپټې بوړې کړې

مغموم سره دا خيالي مجلس به د مغمّوم په هغه شعر ختم
کړو کوم چې دا ثابتوي چې هغه شعر يې کې نو شعوري طور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پې هم د پښتو په تصور یې کې- د موجوده زمانې د پښتو د
دوو کمښو نه څخه ښکلے خیال اخلي وایې چې ؎

؎

چې پې ستا په تصور کښې کمله یې کم
نو هر شعر د غزل مې دوه کمښې شي

(ایاز داؤدزے)

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله جان مغموم

رومانی شاعر

د لوپټو خبړې

د قدرمن عبدالله جان مغموم د شعرونو، کالمونو، طنزونو، ډرامو او افسانو په حقله د دغه ټولپاڼ د راز منفرد قلمکار یو قسمتي ده چې نه هغه هومره وویلے شو نه څه او لیکلے شو څومره چې زمونږ د ادب په معاصره دوره کښې د دۀ په نورو همعصرو وپښلے شوي دي، باوجود دې چې د دے زمونږ د هغو سرونو په شمېر کښې شمارل کېږي کوم چې د "هفت پهلو" انسان یا شخصیت ټول صفتونه، اړخونه اورنګونه لري -

د مغموم صاحب د ژوند ګړۍ ګړۍ، لمحه لمحه د دغه "بې څوکه" "بې سرکاره" "بې دلباره" ژوند په خدمت او هاند و هڅه کښې تېره شوې ده، هغه د ټولې ځوانۍ د مستۍ هاغه شېبې ورځې چې زلمي پۍ په نورو نورو تماشو کښې تېروي دۀ په پښتو لوستلو یکلوکښې تېره کړې ده - مغموم خپل ټول صلاحیتونه ټول وختونه د پښتو له سره زارکړي دي هغه د ژوند ټولې منډې ټول زیارونه د پښتو له پاره کړي دي - نه بې صلې، بې طمعې، بې لالچه هغۀ داهرڅۀ د یو څو دنیاوي غرضونو، مقصدونو حاصلولو له پاره نۀ دي کړي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو ادب کښې په موجوده وخت کښې د مغسوم صب نوم په مشرانو یکوالو کښې راځي - دوه کم اتیا کاله عمر ئې دے - د شپیتو کالو راسې شاعري کوي - تهوډې نه زیات د موصوف د ښې غمیر او ناراستۍ څه مثال کېدے شي چې دا دے په دې شپیتۍ کالو کښې ایله اوس ټیل د شاعرۍ پر مېدے کتاب (د توس اوربل تورو کښې خیږي) چاپ کوي - او داهم زهٔ په دې خبرې ویاړم چې کهٔ زما زور ورپسې نهٔ وے نو دا کاغذونه به د لوګو او وینو خوراک شوي وو نهو د پرپس ځینې نه به ئې نهٔ وه لیدلې - د عبدالله جان مغسوم د شاعرۍ پخلې مونږ مجموعې رایې دا ورکو شو چې نهٔ دهٔ د چا په رنګ شاعري کړې ده او نهٔ ددهٔ په شان شاعرۍ ددهٔ نه پس بل کوم شاعر وکړه مطلب دا دے چې مغسوم صاحب یو "صاحب اسلوب شاعر" دے، نهو یکار نهو دا ده چې ددهٔ نه پس ددهٔ اسلوب لکه زمونږ د شلمې صدۍ د څلنو نورو لویو او "با اسلوبه" شاعرانو چې حمزه، اجمل او قلندر په کښې په سرکښې راځي) نوي نسل ټیل کړي دي ولې یو نهو دهغهٔ د شعرو اوب د محفلونونه لرې پاتې کېدل او بل د ټیلې شاعرۍ په تشهیر تهٔ کولو هغه د د غه اعزازنه محرومه پاتې کړي دي نوکهٔ د ښهٔ غورو فکر نه پس دا رایې ورکړم هیڅوک به ډې پرې ګرم نهٔ کړي چې کومه شوخي، سادګي، ښې یاکي او رنګینې د مغسوم صاحب په شاعرۍ کښې لیده او مونده شي، د غه صفت ددهٔ د عمر د بل هیڅ کوم شاعر په شاعرۍ کښې نشته زما دد پې خبرې نه دې کوره هرڅوک دا مطلب شوک نهٔ اخلي چې کنې عبدالله جان مغموم تر ټولو لوئے، پوهے او زوراور شاعر دے - شلمې صدۍ د پښتو د شاعرۍ په بن کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سې دا سې ګلونه ټوکولې دي چې په وږمو يې تمامه پښتو ټوکو
معطره ده چې شملې يې هسکې تاتې سره سيالي کوي ـ زما اصل غرض
ټولو دا دے چې کوم فطري روحاني ټولټه او ساده والے زمونږ دې شاعر
په شاعري کښې پرانټه دي هغه د نورو شاعرانو په شاعري کښې ډېر
کم دي ـ

د مغسوم صاحب "کمله" يا "پښغله" د هغه په زړه ژهن اود وجود
په رګ رګ کښې پېشته ده ټولو ټومره عجيبه خبره ده چې هم د نه پښغله
مغسوم صاحب په مخالف ستر ګو ليدلې هم نه ده او دې لوئے سوب
د ده د ماحول صفا روايتي قلعه کاني دي کوې چې د مغسوم صاحب
نه ګېر چاپېره د مغسوم صاحب د فکر نه هسکې هسکې ولاړې دي ـ هغه
وخت چې د مغسوم صاحب د شعر شېرينو يا پښغله ښځه مسته وه ځنې
خلقو په ده د کمراه شاعر لېبلونه او الزامونه ولګول ـ وې به ټې دے
د زلفو، ستر ګو شونډو او رخسارونو ذکر په ډېرو شلېدلو ټپکو کښې کوي ـ
ټولو هوښيارو شهسوارو بيا هم د خپل مرام او مقام نه وانه ړولے شو ـ
ده به وې زه د قدرت د فن ستاينه کوم، خلق که د انسان بېلاس د جوړ شوي صنم مدحه ګري کوي زه دې د دومره لوئے ذات له
ټولو د جوړ شوي شهکار تعريف او توصيف ولې وانه کړم ـ د چا سندرې
چې ټول کائنات وائي ـ د چا مدحه ګري چې ټول قدرت کوي ـ ښځه
شاعري هغه ده کومه چې د هر دور هر پې زمانې له پاره وې کومه چې
هر وخت هر حالت کښې پته زړګو ښځه او پېښې پېښې ګڼي او مغسوم صاحب
په دې حلقه ټوش قسمته دے چې هغه کومه شاعري کوي هغه د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدود دائرې یا لېبل پاتې دا ره منځ ته ده، هغه پاتې کېدونکې شاعري ده ډهغې نه اوس هم او راتلونکیو وختونو کښې به هم خلق ګټه اواخلي - د مغموم صاحب شاعري د انسان او انسانیت، د محبت او صداقت په دائمي او اِفاقي قدرونو بنا ده - د مغموم صاحب د شاعرۍ بنیاد ونه او برمضبوط دي - هغه د انساني ژوند سندرې وئیلي دي د ګلاب ګلاب څهرو، غنچه غنچه ګوانو، سندرې ئې وئیلي دي هغه د مینې محبت سندرې بولي دي - او مینه به خلق په هر دور کښې کوي، د مینې مزې دومره کچه نه وي چې د نړۍ سیلرۍ دیوې چپې سره ترڅو ترڅو شي چې ګنې مینه د خلق پېژني، صابه ئې نه پېژني د دنیا بازار ولاړ د محبت په رده دي د دې بازار رنګ ونور هل چل او د ژوند هاند وهڅې په نېغل ځائ ګټه ردي اهمیت، حیثیت او افادیت نه هم انکار نه شي کېدے -

مغموم صاحب دا سې د زلفو انګو او شونډو او صفتونه هم نه دي کړي لکه چې دا بعضې بعضې شاعران ئې کوي - د هغه سل په سل فیصده شعرونه د عشق د ګرمۍ نه ټاؤ دي د هغه اندازې چې کوم دے په پښتو ټولنه کښې دا اندازې خدائے پاک صرف درې شاعرانو ته په نصیب کړي دي او د غه دي یوسف اورکزي، سیف الرحمٰن سلیم او اکرام اللہ ګران -

د ټوپ اوربل ټوپ و کمښتو نجلۍ
ټوپ ره ګوډې دي د ټیږو نجلۍ
د نیمې شپې په خاموشۍ کښې ګلې
نغمې نغمې شي د بنګړو نجلۍ

مغموم صاحب چې هڅه هم یکلي او وئیلي دي نو د پوهې او شعور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ځې په پښتو ژبه ستر کو ویلې دي هغه مدهوش او مجذوب شاعر نه
دے ، هغه هاغه څه یکې په څه ځې خلق پوهیږي څه ځې خلق
(خصوصاً نوې نسل نه ښوي) د مغموم صاحب ټول ژوند د مینې نه عبارت
دے - د هغه نظریه مینه ده - د هغه مذهب محبت دے - د هغه کلے ټول
جهان دے - د هغه کور د تصوراتي او دودې دیوالونو د قید و بند نه
مبرا دے ځکه د اخبره په دعوی سره کوم چې که د عبدالله جان مغموم د
شعرونو کتاب د هر قوم په زیرکتیا ترجمه شو هغوی به د اشعرونه په
دومره شوق او ذوق لولي لکه چې هغوی د خپل ماحول د کوم مست رومانی
شاعر کلام لولي هغوی ته به د اکلام پرده ے نه ښکاري -

مغموم صاحب مینه نه وروي د مینې و پښکر دے ، د مینې شاعر دے ،
مینه د هغه ژوند دے ، ځې مینې ژوند هم وپه ژوند نه پوهیږي - هغه
انسان سره مینه کوي انسانیت سره مینه کوي ، د خدائے د مخلوق او
ښکلو سره مینه کوي په ځوانۍ کښې ځې هم ښکلي خو ښېښه او اوس هم
دهاغه سوچ په دیوال ولاړ دے هم هاغه تپه ځې په خوله ده ،
هغه سخت نظریاتي سړے دے د اسې نظریاتي نه چې لکه د پرکار مرکزونو
پسې کرځي د اسې نظریاتي چې د دائرو او مرکزونو رو خونه او نظرونه پسې
اړوي ځنې نقطه چین په د مغموم صاحب دغه خو د خواهي او په یوځائے
یو فکر او ورپه نې ته "کمراهي" وائي خوزه هم دغه احساس د مغموم
صاحب تر ټولو لوے برے ګڼم -

هریو وارچې ورته ګورمه حیران شم -
کله شمع کله ګل کله سپوږمۍ ځلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـه چې ته نه ې نو خاموشه خاموشي وي
نو چې راشې نو محفل کښې رنګينې شي
چې خبره د مطلب مخې له راشې
نو نادانه شي ماشومه شي ککې شي

د عبدالله جان مغموم شاعري د درنو درنو پې توپې لفظونو او
اوږدو اوږدو پې مفهومه، پې معنې خبرو او د فلسفې د ګنجلک شوو
جنجالونو نه آزاده ده، ډېره ساده، ډېره رسانه، زړه ته کوزېدونکې
زړه ښه کوونکې شاعري ده، اوسنې شاعري ورته هم نه شو وئيلې
ځکه چې اوسنې شاعري هم د يو سوچ د لاندې کېږي د هغې هم يوه
خپله مخه وي، فني هنري اړخ ته پکښې ډېر کم خيال ساتلے شي. ټول
زور په کښې په مقصد راوړلے شي او مغموم صاحب خو داسې شاعر دے
چې د معنې او مقصد سره سره ې د فن فوځونه هم کاني ګوي دي. د هر
هر شعر د ټکي ټکي نه ې سادګي، نغمګي او رنګونه ټخېږي. هغه په
زور شاعري نه کوي او نه ې د زور شاعري نو ښېږي. د محسوساتو
او احساساتو زيات قائل دے. اوزه د اخبره په دې د عوا کوم چې که
هغه په يو وخت کښې ډېر کمزورے شعر هم اووائي. زه ورته وېم چې
په دې يو نظر بيا هم واچوي هغه خپله مخصوصه خندا وکړي (د
مرچکي خندا هم منلے شوې ده) وائي "پرېږده صابر شاه څه چې
راغلي دي هغه راغلي دي اوس به په کښې څه هندي منافقت
کوو، ماچرې هم خپل خيالات زخمي کړي نه دي د فطرت په قانون
کښې چې ډېرې ګوتې وهي ډېرې کړې به ورته راولاړېږي" او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغهٔ هم د غه عادت او سوچ د هغهٔ شل ټیصدهٔ شاعري د فن د تلې نه غوږزولې ده کهٔ چرې مغمّوم صاحب د یو "شیفټ" په ځای په بیلو بیلو وختونو کښې شعرونه یکلي بیا بیا ئې کتلي بدې بدې کوتې ئې پکښې وهلې نو بیا خو به دا خبره هرو مرو مبالغه نهٔ وه چې د هغهٔ د شعر سیال به د پښتو د جدید و شاعرانو په سیل کښې هرو په نظر نهٔ راتلو خو د بد قسمتۍ نه څهٔ د هغه اصولو او څهٔ نارامیږ او ناوړکاري هغه د غه "بهٔګ" نه ئې برخې کړې دے!

د عبدالله جان مغمّوم په ټول شاعري او ذهن څلور تکي قابض دي د غه څلور تکي د موصوف د شاعري سمبولونه دي - هغه چې خبره تاوکړي راتاوکړي په "لوپټو" پښغله، لالۍ اوګلۍ" باندې اودروي، او هم د غو څلورو تکو د هغه د شاعري خوند مزه او رنګینې سپوا کړې ده!

خصوصاً د لوپټې له پاره نو هغه دومره نوي نوي خیالونه راوړي دي چې قاري په دې بحبوحهٔ شي چې کهٔ په ژوند کښې څهٔ دي هغه ټول هم د لوپټې د سور یې لاندې پټ دي، لوپټه د حیا او پښتو رومي ښځینه ده مغمّوم صاحب د تور سرو له پاره لوپټه لازمي ګڼي زهٔ دلته د "موتي له خوا" د هغهٔ هغه شعرونه چې لوستونکیو ته په وړاندې بدم کوم چې مغموم صاحب د لوپټې د عظمت، حیثیت، بناست او مقام او احترام په حقله وئیلي دي -

ستا د سرو شونډو اثر دے او د شنې لوپټې عکس دے
چې لمبه د تنکۍ شمعې کله شنه شي کله سره شي

تصوّر د لوپټې چې راله راشي د شفق رنګینۍ لاړې شي پناه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځې رنګینې ټولې راغونډې شولې
پېغلو تر ې ځان له لوبټې جوړې کړې
لوبټو یاندې ځې پېغلو سپین پرونې راپه سرکړه
د زلمو ټېرۀ نظر جوړ لوبټو کښې چوکه کېږي

بهرحال خبرې به په لنډو کوڅو ځې د مغمومؔ د شاعرۍ زمکه ډېره متینه او ټوره وړه ده - دا زمکه په یو نظر نه شي کېدے - زۀ دا اعتراف کوم ځې د مغمومؔ صاحب د مکمل جاج له پاره څومره څېړنه او پلټنه پکار وه ما اونۀ کړے شوه - ما په دې لنډ تنګ وخت کښې هم دومره کولے شو ځې د هغۀ د شعر د "پېغلې" د مخ نه "لوبټه" نیم کښو کړم د نور خط و خال جاړه ې تاسو واخلئ ځې د رومان د ې شهزاده د غه ناوې څومره شکر باره، څومره حسن وړه ده !

سید صابر شاه صابرؔ
غریب آباد تهکال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورا او ربل تورو کمثو خبرې

(زما هغه شاعري چې مانه چاپ کوله)

خدائے شته که درته دروغ وېم چې ما دا ټيله شاعري نه چاپ کوله - هډو د چاپ کولو اراده هم نه وه - حکه چې دا زما د ځوانۍ شاعري ده، دا هغه شاعري ده چې د ځوانانو نو نه وه او د بوډاګانو بدي شوه - حکه نو به زما د يوسف خان اورکزي (مرحوم) او د سيف الرحمٰن سليم خلاف په اخبارونو کښې مضمونونه چاپ کېدل او سرخط به ئې و "په ادب کښې ګمراهي" مطلب ئې دا و چې اے خلقو خبر شئ يو درې شاعران ميدان ته راوتې دي - د پښتو ادب ئې ځپړ کړو - دوئ ې لاړې شوې دي - دا ې لاړې کسان به لاړې نه راګرول غواړي نو د غه پښتنو دانشورانو نو زه د ګمراهانو په فهرست کښې شامل کړے وم - او په زړه کښې ما هم دا منلې وه چې زه په غلطه لار روان يم - په دا سې غلطه لارچې راځلو کې نشلونه به ټپوس کوې چې "ولې مغموم ځې دې ځوانۍ د دريا نه دا سې ستړې پښې کړې وې چې سره د عقله روشعورڼ دې نېغه لار پرېښودلې وه او په کندو کېرو سرشوے وې او د پښتو ادب ګمراهۍ ته دې بلې وې" نو ما څه کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے ، یو خوا ته د مخالفینو ستغې سپورې خبرې او د ګمراهۍ فتوې وې او بل خوا ته به چې ژه په شاعره کښې اودریدم او د غزل مطلع به مې اووې ټله چې ....

ے یو نری غونډې مُسکا چې شاپه سروشونډې وهوړشي
تهول ماحول سرور سرور شي او فضا یوه نغمه شي

نو په هال کښې به یې شور شو هلکانو او زلمو به خپلې ټوپۍ په هوا کښې والوزولې او ماله به ټې دومره شاباسې راکړوچې د تقادانو هغه سپورې ستغې خبرې به رانه هیرې شوې۔ د ګمراهۍ ټولې فتوې به رانه هیرې شوې او صیاله به چې کښینا ستم نو یو بل مست غزل به مې او لیکلو یوه بله جذباتي رالوزوونکې مطلع به ذهن ته راغله - یو ځل چې دمردان کالج زلمو ته مې په یوه مشاعره کښې په خپل مخصوص انداز کښې د غزل دا مطلع واوروله نو تاسو یقین اوکړئ چې هیڅوسته درزېدهٔ ټوپۍ لږه کیدې لاسونه یې قېدهٔ او زلمو او زلمو ټوپۍ هال په سر راخستې وُ -

مطلع داسې وه -

ے ورپسې زلمو ځوانۍ خاورې ایرې کړې
خدائے دې کوتک کړه څهٔ له پېغلو ته خبرې کړې

زما شاعري سمې خبرې دي - منافقت په کښې نشته - ساده خبرې او ساده شعرونه دي - دا سې شعرونه چې د اوربدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد لوستو په وخت اوربل و نکے یا لوستو نکے په شعر باندې
په سوچ کولو نه مجبورۍ وي بس چې شعر واوري او
یا ئې اولولي نو رسا زړه او دماغ ته اورسي او هلته ځان له
ځانه پیدا کړي - زړه تاو راتاو ځیږه نشم کولے - زړه دبهوسو
لاندې او بډه نه شم بوتلے زړه کښلکه شعر و نه نشم یکلے -
زړه چې څه محسوسوم - زما چې څه جذبات وي بس هغه
د شعرونو په ژبه خلقو ته رسول غواړم - اوزما د غه
صداقت د پښتنو زلمو او ځوانانو نه هوښیار او د شعر نو ناقدانو
نا نه ښیې وو -

یوه ورځ پښتو اکیډیمۍ ته تلے وم - محترم مولانا
عبد القادر مرحوم مې اولیدو نو راته ئې اووے چې د مغموم جانه
چرته سمه غوندې شاعري دې نشته چې زړه ئې د هلکانو
جذبو په نصابي کتابونو کښې راولم" .... ما ورته وے چې
سمه شاعري څنګه وي راته ئې وے چې د ستا شاعري کښې
تشې شوندې - خالونه او لوپټې وي" .. ما ورته وې چې
مولانا صیب زما نوهم د غه شاعري ده نو - مولانا صیب لاړوپه
خپله محه اوزړه خفه د لګیږ ملامته غوندې پاتې شوم - خو وروڅې
پس د اسلامیه کالج په ځیږ یو ټین هال کښې د پښتو درته شاعرۍ
وه، مولانا صیب ئې صدارت کولو - چې زما نوم وا خیستے شو اوزړه
ښه جانه
ستړے ته اوختم نو مولانا صیب راته اووے چې څه کنه مغموم
څه لوپټې موپټې والوزوه - ما ورته اووے چې اول دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې شعرونه واړئ - نو بیا به درې لوپټې والوزوم -
شعرونه دادي -

ستا د اوربل دا پریشانۍ مزه کـه
د تورو سترګو حیرانۍ مزه کـه
هرې توپې پسې ګناه کوئ مه
څومره توبه کښې پښیمانۍ مزه کـه

او مولانا صیب

ځوانـه ځوانۍ کښې د ځوانۍ تقاضې
په بوډاتوب مسلمانۍ مزه کـه

دې شعرونو په اوږدو سټوډنټانو حسبِ عادت ډیر
واه واه اوکړل او مولانا صیب هم مُسکے غوندې شو او سړې
او نوزولو چې کنې ستا خبره رښتیاده -

نو زما دې دومره اوږد بیان نه مقصد دادے چې ما پخـه
اراده کړې وه چې زهٔ به ځیله شاعري هیڅ کله نهٔ چاپ کوم
نو بیا غلے ایاز داؤدزے را پسې شوے وُ چې مهٔ ویرین ه شاعري
دې چاپ کړه - اوس هغه د ننه نه دپرش کاله پخوا وخت نهٔ
دے اوس پښتو ادب دومره ترقي کړې ده چې ستا په شاعرۍ
څوک اعتراض نشي کولے بلکه خلق به ئې په سر سترګو قبوله
کړي نو د آیازخان په وینا مې کتاب چاپ کولو ته غاړه کښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څېړنه دا اراده مې چې ښاغلي صابر شاه صابر ته ځوګنده کړه
نو ځو ورځې پس مې هغه ډاسره مخ شو نو پوره شل مخې
یوه مقاله مې ډاله په لاس کښې راکړه چې عنوان مې و
"د مغموم د رومان شهزاده"
دده سرخط په لوستو لایم شښې ته اودرېدم ځیل کړه وړه
مې په کښې اوکتل نو خدائے شته که د شهزادګانو راکښې هېڅ
هم وو بهرحال په دې مضمون کښې صابر شاه د لوېتو پخله
زما شعرونه د پرستایلي دي لکه ایاز داؤدزي چې زما په
شاعرۍ کښې د پښغلي په تصور رنا اچولې ده، نو صابر شاه
زما په مختلفو رنګونو کښې د لوېتې په ذکر یانې بحث کړے
دے - دوارو یکوالو د خپلې مینې او عقیدت اظهار په دېرو
ښکلو الفاظو کښې کړے دے او زهٔ د دوئ د پرمشکور یم -
دا زما خوش قسمتي ده چې ماله خدائے پاک دوه شخصیتونه
داسې راکړي دي چې چې که دوارو په ماګرانۍ دي نو زهٔ پرې هم
بې شانه د پرګران یم - ځکه نو ایازخان چې زما د شاعرۍ
نه زما د تصور پښغله راوانسته نو داسې سرخنه ډې ورله اوکړه
چې زهٔ ډې ورته حیران کړم په دې کښې شک نشته چې ما پښغله
ځیلو شعرونو کښې ستایلې ده نو هغه زما د تصور پښغله داسې
نهٔ وه، هغه نو ساده بوده کلي والا پښغله وه د هغې نو
دومره نخرې نهٔ وې زده - دغه ساده بوده پښغله چې د
ایازخان ګوتو له ورغله نو داسې سرخنه ډې ورله اوکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پچې نړۍ ورته حیران کړم - او د پاسه چې پرې صابر شاه
د اړې نوم غړه زما د شاعرۍ نه ټولې رنګې لوپټې راغونډې
کړې - د دغه لوپټو نه یې ټول ښائسته رنګونه راټول
کړل او دغه پښتلې له یې د لوپټو یو اوږد پرون جوړ
کړو - هغه یې ورته په سر کړو - ساده بوده پښتلی نه یې
دواړو قدرانو داسې ناوې جوړه کړه چې د پښتونخوا ټول
ښائسته ورته ګوته په غوله شي -

زړه د حسن په لټون پسې چین ماچین ته نه یم تلے - زړه
د رنګو رنګو صراحي غاړه پښتو پسې کابل ته نه یم تلے - ما
خو د خپل کلي پښتنه ستاینې ده - د خپل چم او خپل کاونډ
پښتنه - او ثبوت یې زما د شعر دے چې -

ځه خو باته کړه په دې وال او ګوره
ستا د کوڅې سره ټپې مې زړه

ما چې ستر شاعر حمزه بابا ته د شعر واورولو نو د پرې
خوښ شو - په دې شعر کښې ما نه د بدخشاني پښتنې ذکر
کړے دے او نه مې په کښې د ثمرقند حسن ستاینې دے نو
بیا ولې د حمزه بابا د شعر دومره خوښ شوے وُ - ځکه
چې د هغه په قول د اپښتني شعر دے پښتنه پښتنه په کښې
مخاطب کړے شوې ده - او کوڅه او دې وال هم د پښتني ماحول

(c) ketabton.com: The Digital Library

عکاسي کوي - ما نو په خپلو شعرونو کښې د پښتونخوا کچه کورونه یاد کړي دي - کچه کوڅې یې ستایلې دي نڅې یې د اسلام آباد محلونه ستایلي دي او نڅې یې د پښتنو پلنو سرکونو صفت کړے دے - په ګوا هڅ کښې خپل د اشعر پیش کوم - ؎ د خپل اشنا هغه خاوړینې کوڅې

د کهکشان نه خدا ئې ګلو ښې ښکارېدې

زهٔ دا دعویٰ نهٔ کوم چې زما شاعري ګڼي د شاعرۍ د فن تقاضې پوره کوي یا د شاعرۍ د اصولو په تله تلې یې ګڼي برابره د خپلې شاعرۍ خامۍ راته معلومه دي کمزورۍ یې راته معلومه دي - خو سره د دې معلومات ما د خپلو شعرونو نه دا غه کمزورو د ډې کولو خاطر نهٔ دے کړے ما په شعر کښې خیال له اهمیت ورکړے دے فني ضرورتونو له نه - ما خپلې خبرې ته د رنګینه او نوښتو الفاظو رنګینه جامې اغوستولې دي - خپله خبرهٔ هم پرې نباسته کړې ده - او په ښکلي انداز کښې مې لوستونکو ته پیش کړې ده - ارمان دے کهٔ دغه خبرهٔ دغه شعر کښې فني کمزورۍ روپې نو د کمزورو باوجود هم دغه شعر اوریدونکو خوښ کړے دے او ما له یې د "د پر ښهٔ" په الفاظو داد ګیرنه راکړې ده -

نوګرانو او نوښتو رونو خپله شاعري سره د خپلو پرو فني کمزورو د "تور اوربل تورو کمڅو خبرې" په کتابي شکل کښې ستاسو په مخکښې ده - خدائے دې اوکړي چې ستاسو خوښه شي

په لوئے الله مو سپارم

عبدالله جان مغموم

۲۰۰۰ - ۸ - ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه

بنکته پورته لاندې یاندې
اوچې شاړې تاندې تاندې
دا شینکي شینکي بیا غونه
په غورزنګ روان سیندونه
سمې غرونه په لړزان دي
کائنات واړه پریشان دي
شین آسمان ځمکه روښوري
حق حیران ولاړ دي ګوري
چې انسان د انسان وینه
څڅه په خونډ خونډ څکي غټېږي
کور په کور خونه په خونه
د شمنۍ دي چې خوږېږي
د مظلوم وینه اوزاښته
هرې خواته ده روانه
روږ د روږ په مړۍ ناست دے
روئے د پلار سره په جنګ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان انسانیت ټن
د چا ان په رنګ کښې رنګ دے

د وطن په پاکه سیمه
یو تالان دے یو یرغل دے

لویه خدایه لویه خدایه
دا څه چل دے دا څه چل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې زلمو ځوانې خاورې ایرې کـــړې
خدائے دې کونګ کړه څه له پښلوته ځیرې کړې

چې مې غټ غټ قسمونه اول مات کړل
بیا توبې مې ځیلې ټولې ورپسې کـــړې

تصوّر چې د سـرو شونډو د ژاله راغـلې
نو را یاد شپه م دیوې مې ټولې مړې کړې

کـه هر څومره هم د ځوړیم نو به روغ شم
خو کـه زلفې دې په ما لږې ځورې کړې

په دې راز یا ندې زه خدائیکو کـه څه پوهیږم
چې دې ستړې و بېګا چاته راشـــارې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس یو پو ټے غوندې خندا اوکړه ټه
او د خندا سره ادا اوکړه ټه

خدائګو دلارې نه به ستون شمه زه
ته یو نظر کلې په شا اوکړه ټه

هغه یو ځل چې دې ځواکړے وه
هسې ادا یو ځلې بیا اوکړه ټه

ما ورته وے لږه مسکۍ شه کنه
نو راته ئې وے لږه ژړا اوکړه ټه

مغومه وا خله د ځوانۍ نوندونه
نو بیا دې غم لږ د عقیلۍ اوکړه ټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې په مایانه ې وختونه راغلل
بې غمې لارې غمونه راغلل

ستا تصوّر چې مې دځان سره کړو
چرته ږیله بېګا ځوبونه راغلل

وفا دې ټوله درقیب سره شوه
زما په برخه تش لوظونه راغلل

ستا په راتلو دنیا آباده شوله
نو ته ُ چې لاړې قیامتونه راغلل

څومره چې ما دزړه ُ شکونه ویستل
هومره مې زړه ُ کښې نور شکونه راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول به زړهٔ سره صلاح کوَمه
تا صحه بیا به ستا رضا کوَمه

دومره خبرشئ چې مُښن یمه زهٔ
نوهٔ قصه به درته بیا کوَمه

ددې دنیا نو ځکه بدې شم چې
خبره سپینه او صفا کوَمه

د عشق سختۍ او خندا کانې نرما
لال یم ایرو کښې هم ځلا کوَمه

مغمومه تهٔ په کومو کندو سرشوې
زهٔ نو قصه د ځیل اشنا کوَمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشې نشې سُوده نشې دې منم
ستر ګې دې سرې ډکې کاسې دې منم

اوس یه محفل کښې شمعه بله شي بوره
دا پتنګان ځکه دلې دې منم

ستا قېنچې مکښ او کل ورینه خندا
د پېغلتوب ځو تقاضې دې منم

د چا یه شپې ورځې رنګینې وي ځو
په ما رښا ورځې تیرې دې منم

دا ناصحان ځې ټېټ ایستلے نه شي
د مغمّوم کلکې ارادې دې منم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ہی ارادې جوړې نن ځوانې شوې
ځکه په توبو باندې پښیمانې شوې

ولې به د ستورو احسان مندنۍ یم
شپې ې دبلتون چې پې آسانې شوې

تکې تورې شپې رو تنهایۍ زما
ما وے جوړې آسانې دې نوګرانې شوې

بیا دې آئینه کښې بدرګتلې دې
ځکه اداګانې دې بل شانې شوې

مغموم چې کړه توبه د ګناهونو نه
خدائ ګو توره شپې ې مسلمانې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکې تورې شپې کړې تا
بیا زلفې تورې کړې تا

اووے په غصې کښې تا
ماتې مې کجرې کړې تا

کله به مُسکۍ شوې ټهٔ
کله به نخرې کړې تا

هرې یو ادا کښې نو
خدایٔګو زلزلې کړې تا

لا په دیدن مو رنهٔ وم
ولې دیوې مړې کړې تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه د انتظار په شوکیرو تېر وم
لار ته په کتو په اندیښنو تېر وم

اوس چې زلمیتوب په مېکدو تېر وم
بیا به بوډا توب په مصلو تېر وم

اووے پسرلي راته نن بیا په خندا
بڼې زلزلې دې په توبو تېر وم

زهٔ د بېلتانهٔ دا اوبدې شپې اشنا
پوے شه چې په غنو په اغزو تېر وم

پېغلې آېنې ته په خندا ګنبې اووے
څنګه قیامتونه په زلمو تېر وم

څوک به ېې د ستورو په کتو تېروي
زهٔ څو تنهایي په اسوېلو تېر وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې زلفې را ښورې کړې تورې شپې شې
نو د ورځې نه دا شپې خدائ ګو ښوديږي شې

د بيلتون په تنهايو کښې چې راياد شې
په ژړا ژړا مې تورې سترګې سرې شې

نو چې داغ مې په لمن باندې راشې
ارمانونه مې دې ټول خاورې ډيرې شې

ستا د توري و سترګو بلا واخلم
بې لټا نو به دا شپې ډيرې درنې شې

که د زلفو کښه لاردې کړې سمه
لارويې به لږ منزل ته ورنږدې شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وہم چې ستا د نیا هم اوسوزوم ایره کړم
چې دې زهٔ خدایه د زړهٔ په رنځ اخته کړم

دې ناصح ته ځوزهٔ هسې په خوله ښهٔ کړم
کنې څهٔ چې راته زهٔ وائې هغه کړم

کهٔ سپرلي کښې مې توبو ته نیت خراب شهٔ
دا تسبې به بیا واعظ ته حواله کړم

ستا په نهٔ راتلو زهٔ خدائ پکار کهٔ خفه یم
خو دې ستوري وته دې دپر بیکا کچه کړم

مېکدو ته ځو بل مهٔ وایه ناصحه
کنې یاده به زهٔ هم ستا مصلحه کړم

چې لمن مې پرې سالمه پاتې کېږي
کرپو انونه به زهٔ ټول ریخه ریخه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

